

# د ساختماني انجينري د انټرويو سوالونه او ځوابونه

*ترتيب او کمپيوټرايز کونکی: انجينر سردارخان؛سمسور؛ مقبل*

Ketabton.com

د ساختماني انجينرى د انټ[illegible] سوالونه او ځوابونه د ګران محصلين لپاره چې تازه د پوهنتون څخه فارغيږي ډير ګټور تماميري.
محصلينو ورونو ته [illegible] ګټور [illegible] کي يي وړاندى
کړم هيله لرم چه ستاسو د استفادى وړ وګرځي.

Email Address: Sardar.samsor@gmail.com    Sardar.samsor@yahoo.com

1392/ ثور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ساختـــماني انجینـــــري د انټـــرویو ســـــوالونه او ځـــــوابونه

## کانـــــکریـــــــټ (Concrete) او ســــاختمـــــان

۱ – د کانـــــکریټ د اچولو په وخت کی باید د کانکریټ د حرارت اندازه څـــو وی ؟

**ځواب -** د کانکریټ د اچولو په وخت کی باید د کانکریټ د حرارت اندازه لوړه ۳۲ سانتی ګرید او ټیټه ۱۰ سانتی ګرید پوری وی.

۲ – د کانکریټ د اچولو په وخت کی باید د هوا (Ambient) حرارت درجه څو وی ؟

**ځواب** – د هوا حرارت ته عموما د ۲۸ سانتی ګرید څخه تر ۵ سانتی ګرید پوری اړتیا شته.

۳ – کانکریټ باید په څومره وخت کی واچول شی یعنی څومره وخت وروسته تر جوړیدو خرابیږی؟

**ځواب** – تر ۹۰ دقیقو پوری باید کانکریټ استعمال شی که ختم نه شی یا د اچولو اجازه نه لری او یاNCR اخلي.

۴ - NCR څه معنی؟

**ځواب**: د همدغه کانکریټ څخه چې وخت پرې تیر شوی د اضافي سلنډرونو ډکول دی د۷ او ۲۸ ورځو د مقاومت د مالومولو لپاره . نوموړي سلنډر د کانکریټ اخر څخه باید واخستل شي ترڅو داخري کانکریټ مقاومت ورڅخه مالوم شي.

۵ – Air content انټروال اندازه په کانکریټ کی څومره ده ؟

**ځواب** –که په کانکریټ کی د ۱۹ ملی یا تر ۱۹ ملی زیات جغل کار شوی وی نو د ۴٪ - ۷٪ نوموړی موادو ته اړتیا شته او که کانکریت کی د ۱۹ملی نه کم جغل کار شوی وی نو د ٪ ۴,۵- ٪ ۷,۵ پوری موادو ته اړتیا لري.

۶ –Air content په کوم ډول سټرکچر (عمودی یا افقی ) کی ډیر ضروري دی ؟

**ځواب** – په افقی سټرکچر کی مهم دی.

۷ – که کانکریټ کی Air content د ټاکلی اندازی څخه کم وی څه باید وکړو ؟

**ځواب** – په کانکریټ کی د Air content مواد باید واچول شی او میکسر وڅرخول شی.

۸ - د (Air content) مواد د څه لپاره په کانکریټ کی اچوي او د کومو موادو نه مکس دی؟

**ځواب**: نوموړي مواد کانکریټ د یخ کیدو او ګرمیدو د سایکل په دور کی د تخریب نه ساتي او کانکریټ ته د ښه تعامل او د انقباض او انبساط زمینه برابروي ترڅو کانکریټ د کریکونو څخه وژغورل شي.

Air content د ۱- لرګي د ژاولی نه جوړشوی مالګه، ۲ - مصنوعي صابون، ۳ - د پټرولیم د تیزابو مالګه، ۴ - غوړ، اسید او مالګی نه تشکیل شوی دی.

کله چی قوي کانکریټ کی نوموړی مواد د ۱٪ په مقدار زیاتیږي، په مقابل کی د کانکریټ مقاومت ۵٪ کمیږي. دا یوه اړتیا ده چی د Air content استعمال اصول په کانکریټ کی مراعات شي او هم هغه ساختمان کی چی ورته اړتیا نه وي ، تری استفاده ونه شی.


ترتیبوونکی: انجینر سردارخان ؛سمسور؛ مقبل

